حامد حیدر زی
۲۰۱۰/۱۰/۱۰

# د نړۍ هېنداره بشپړه شوه

(آسیا)، (افریقا)، (آسترالیا)، (اروپا) او د هغه پنځو کتابونو نومونه دي چې په تېرو شپږوکلونو کې، (د نړۍ هېنداره) په سلسله کې خپاره شوي دي. (د نړۍ هېنداره) هغه دایرة المعارف ګوټی دی چې ښاغلي احسان الله آرینزي یې لیکلو ته ملا تړلې او غوښتل یې چې په پنځو یا شپږو ټوکونو کې یې بشپړ کړي. د دې دایرة المعارف ګوټي پنځه ټوکونه د اسیا، افریقا، استرالیا، اروپا او امریکا د لویو وچو په هکله په پېښور کې د ساپي د پښتو څېړنو د پراختیا د دفتر له خوا د الا ذهر د خپروندو په دفتر په مرسته خپاره شوي دي چې په دې لیکنه کې به خبرې پرې وکړو.

لومړی- آسیا :

دغه کتاب ۸۲۳ مخونه لري او د آسیا په لویه وچه سربېره ۵۲ اسیایي هېوادونه، د انګلیسي الفبې په ترتیب پکې معرفی شوي دي. په دې معرفي کې د هر هېواد پېژندنه داسې شوې ده :

په طبیعي جغرافیه کې د نامه لنډیز Data code نړیوال، رسمي، پخواني او سیمه ایز نومونه، موقعیت، پراخوالی په Km² او میل مربع، د قلمرو وچه او اوبه، ځلور خواوې او له ګاونډیو هېوادونو یا اوبو سره د پولو کیلومتري اوږدوالی، لوی غرونه، جګې څوکې، غټ سیندونه، اقلیم او په پای کې د هر هېواد نوري جغرافیایي ځانګړتیاوې. په سیاسي جغرافیه کې پایتخت او نفوس یې، د هېواد ټول نفوس، د نفوسو ګڼوالی Density ښاري او کلیوال نفوس، د نفوسو سني وېش، د جنسیت تناسب Sex ratio، په ۱۰۰۰ زېږېدلو ماشومانو کې د مړینې کلنی اندازه، د نفوسو کلنی ډېرښت، د عمر منځنی اوږدوالی، په ۱۰۰۰ ښځو کې د زېږېدلو ماشومانو شمېر، د هېواد اداري وېش، لوی ښارونه، حکومت (اساسي قانون، جمهور رئیس، لومړی وزیر، پارلمان او قضائیه قوه)، سیاسي ګوندونه او د هغوی اوسني مشران، د سیاسي فشار ډلې، نژاد، دین او مذهب، ژبه، لیکدود، د خپلواکۍ روځ، په UN او نورو نړیوالو ټولنو کې غړیتوب او په پای کې ملي بیرغ.

د هېوادونو د اقتصادي جغرافیې په سر کې لومړی د هر هېواد پر عمومي اقتصادي وضع یو ځغلند نظر اچول شوی دی. له دې تحلیلي بحث څخه وروسته دا عناوین تر سترګو کېږي: غیر خالص کورنی تولید، د غیر خالص کورني تولید کلنی وده، د غیر خالص کورني تولید سکتوري جوړښت، د سړي سر کلني عاید، د انفلاسیون اندازه، د کار قوت (د شمېر او سکتورونو په حساب)، وزګارتیا (بودجه د عوایدو او لګښتونو په تفکیك)، صنعتي تولیدات، د صنعتي تولیداتو کلنۍ وده، د برېښنا تولید او منابع یې، کرنه، څاروي، ځنګلونه، توریزم (سیاحت)، غټ کانونه، صادرات او واردات (د ټولې بیې، اقلامو او غټو تجارتي شریکانو په تفکیك)، بهرني پوروونه، بهرني مرستې، ترانسپورت (د اورګاډو، لویو لارو، لویو او کوچنیو نقلیه وسایطو، د تېلو او ګازو د نل لیکو، تجارتي بېړیو او الوتکو په تفکیك)، د پیسو واحد او له امریکایي ډالر سره د هغه انډول، مالي کال، وزني سیستم، مخابرات (د کورنیو او بهرنیو ارتباطاتو په تفکیك)، د راډیویي او ټلویزیوني خپرونو مرکزونه او د هر هېواد د ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا په هکله ارقام لکه د باسوادانو سلواله، زده کړه، عامه روغتیا، مطبوعات، خپروني او داسې نور.

له دې وروسته د هر هېواد د نړیوالو لانجو ذکر راغلی او بیا د مخدره موږ دو په کرنه، پروسس، تجارت او ترانزیت کې د دغه هېواد په ونډه باندې خبرې شوې دي. دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې ښایي ځینې هېوادونو له خپلو ګاونډیانو یا لیرې هېوادونو سره د ملکیتونو، سمندري حدودو او پولو د ټاکلو په سر لانجه ولري او ځینې نور بیا دا ستونزې و نه لري او یا د مخدره موږ دو په کاروبار ورګډ وي او یا نه وي.

په پای کې د هر هېواد د تاریخ برخه رارسېږي. د کتاب مولف د کتاب په سریزه کې لیکلي دي چې نه غواړي د هر هېواد ډېر لرغونی تاریخ را وسپړي، بلکې غواړي چې د هېوادونو معاصر تاریخ او رواني پېښې را واخلي او بس.

هغه هېوادونه چې د نړۍ د هینداري په دغه لومړني ټوك کې پېژندل شوي دي دا دي: اذربایجان، اردن، ارمنستان، ازبکستان، اسرائیل، افغانستان، امارات (عربي متحده)، اندونیزیا، ایران، بحرین، برما، بروناي، بنګله دېش، بوتان، پاکستان، تاجکستان، تایلند، ترکمنستان، تایوان، چین، جاپان، سریلانکا، سنګاپور، سوریه، عراق، عربستان (سعودي)، عمان، فلیپین، فلسطین، قبرس، قرغزستان، قزاقستان، قطر، کوریا (شمالي)، کوریا (جنوبي)، کمبودیا، کویټ، ګرجستان، لاوس، لبنان، مالیزیا، مالدیپ، منګولیا (مغلستان)، نیپال، ویتنام، هانکانګ (د چین د یوې برخې په توګه)، هندوستان او یمن.

ښاغلي لیکوال د دغه کتاب د تالیف له پاره له ۹۲ اخځونو څخه کار اخستی چې ټول د کتاب د اصلي متن په پای کې په ترتیب سره راغلي دي. په دې اخځونو کې د کابل پوهنتون د محصلینو مونوګرافونه، د ایران او نورو هېوادونو چاپ کتابونه او د انترنت معلومات د یادولو وړ دي. د (اسیا) د کتاب د لومړي چاپ په پای کې یو نوملیك یا یو کمکی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

قاموس راغلی چي د کتاب ۸۰ مخونه یي نیولي دي. په دې نوملیك کې له هغه لوستونکو سره د مرستې له پاره چې ښايي د ځینو کلماتو د مانا په برخه کې ستونزې ولري د نژدې ۲۰۰ اصلاحاتو (لکه ټاپو، ټاپووزمه، سمندر، طول البلد، عرض البلد او نور) پیژندګلوي راغلې ده.
ناویلې دې نه وي پاتې، دا کتاب چې د لومړي ځل له پاره په کال ۲۰۰۰ (۱۳۷۹ هـ ش) کې چاپ شوي و، په کال ۲۰۰۳ (۱۳۸۲ هـ ش) کې د دویم ځل له پاره بیا خپور شو. د کتاب په دویم ځل خپرېدنګ کې یو بل وړوکی قاموس هم یکې زیات شوی دی چې د نړیوالو ټولنو د پیژند ګلوی په هکله په زړه پورې معلومات لري. په دې قاموس کې ډېرې نړیوالې او سیمه ایزه ټولنې راغلې دي لکه UN او د هغه ټولې ځانګړې څانګې، د عربو اتحادیه، د اسیا پاسفیك د اقتصادي مرستو ډله، د لاتیني امریکې د یووالي ټولنه، د اروپا د امنیت او همکارئ شوری، انمرسات، د جنوبي افریقا ګمرکي اتحادیه او ۵۰ داسې نورې ورته ټولنې.
ب:افریقا: د نړئ د هینداري دویم کتاب د افریقا تر نامه لاندې په کال ۲۰۰۱ (۱۳۸۱ هـ ش) کې په پېښور کې چاپ شوي دي.
دغه کتاب د افغانستان د علومو د اکاډمی د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز د عملي منشي ښاغلي نصرالله منګل په سریزه پیل شوی، ورپسې د کتاب د ښاغلي مولف سریزه راغلې چې په هغې کې یې د دغه دایرةالمعارف ګوټي د لیکلو د تاریخچې او خپلو راتلونکو پلانونو په هکله خبرې کړې دي. د مولف له دې سریزې وروسته د افریقا د لویې وچې پیژندګلوي راغلې او بیا د افریقا ټول هېوادونه په وار سره، کټ-مټ د کتاب د لومړي ټوك د متودولوژئ له مخې معرفي شوي دي :
اریتریا، استوایي ګیني، الجزایر، انګولا، ایتوپیا، بوتسوانا، بورکینافاسو، بوروندي، بینین، تانزانیا، توګو، تونس، جنوبي افریقا، جیبوتي، چاد، د عاج ساحل، سوازیلند، سودان، سومالیا، سیرالیون، سیشلز، صحرا (د-ج)، کامرون، کانګو (کینشاسا یا پخواني زایر)، کانګو (برازاویل یا د کانګو دېموکراتیك جمهوریت)، کومورو، کیپ وردي، کینیا، ګابون، ګانا، ګمبیا، ګیني، ګیني بیساو، لایبیریا، لیبیا، لیسوتو، مرکزي افریقا، مالي، مدغاسکر، مراکش، ملاوي، مصر، موریتانیا، موریشیز، موزمبیق، نامیبیا، نایجیر، نایجیریا او یوګندا.
د کتاب مولف ښاغلي ارینزي د افریقا د کتاب د لیکلو له پاره له ۶۵ درې، پښتو او انګلیسي اخځونو څخه کار اخیستی دی. د دغه کتاب په پای کې هم هغه دوه نوملیکونه راغلي چې د اسیا د ټوك دویم چاپ په پای کې راغلي دي. لکه چې مونږ خبر شوي یاستو، په پېښور کې د ساپي د پښتو څېړنو او پرمختیا دفتر دغه کتاب خلاص کړی او اوس یې په دویم چاپ باندې کار کوي.
ج- استرالیا: د نړئ د هینداري دریم ټوك د استرالیا (اوقیانوسیه) تر نامه لاندې په کال ---۲۰۰۳( ۱۳۸۲ هـ ش) بیا هم په پېښور کې د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا د دفتر له خوا خپور شوي دي.
د استرالیا د کتاب په پیل کې د مولف پر سریزه سربېره، د نړئ د ټولو خپلواکه هېوادونو او د نړئ د ناخپلواکه سیمو جدولونه راغلي دي. په دغه جدولونو کې د هر خپلواکه هېواد یا ناخپلواکه سیمې موقعیت (په نړئ کې)، د پایتخت یا مرکز نوم، د نامه لنأیز او په UN کې غړیتوب یا نه غړیتوب راغلی او بیا د کتاب متن پیل کېږي چې د استرالیا یا اوقیانوسیه د لویې وچې یا قارې دغه هېوادونه په وار سره یکې معرفي شوي دي. لویه وچه، د استرالیا هېواد، فیجي، ګریباتي، مارشال، میکرونیزیا، ناورو، نوی زیلند، پالوو، پاپوانیوګیني، ساموا ، سلیمان، تونګا، توالو او وانواتو.
د دغه کتاب د تالیف له پاره له ۵۱ معتبرو اخځونو کار اخستل شوي او کتاب ټول ۳۹۶ مخونه لري. په دغه ۳۹۶ مخونو کې هغه دوه قاموس ګوټي هم راغلي دي چې د افریقا د ټوك په پای کې راغلي وو.
د- اروپا: د نړئ د هینداري د ستر کتاب څلورم ټوك (اروپا) نومېږي چې په کال ۲۰۰۵ (۱۳۸٤ هـش) کې په پېښور کې د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا د دفتر له خوا خپور شوی دی. د دغه کتاب ښایست او د چاپ ښه والی دا څرګندوي چې د کتابونو د خپرېدنګ په چاره کې د ساپي د دفتر د همکارانو تجربه ډېره شوې ده او دوی اوس دغه مسئلې ته ډېر پام اړوي.
د اروپا د کتاب په پیل کې لومړی د مولف سریزه راغلې ده. دغه سریزه لس پاڼې لري او مولف پکې د دغه کتاب په هکله خپلې ضروري خبرې کړي او لوستونکو ته یې زیرې ورکړی دی چې ژر به د دغه دایره المعارفګوټي پنځم ټوك (امریکا) هم د ښاغلو لوستونکو لاس ته ورسېږي. د اروپا په کتاب کې د لیکوال له سریزې څخه وروسته د نړئ د ټولو خپلواکه هېوادونو او نا خپلواکه سیمو جدولونه راغلي دي. له دې وروسته لومړی د اروپا لویه وچه او بیا د دغه قارې ٤٤ هېوادونه پیژندل شوي دي. د اروپا دغه ٤٤ هېوادونه دا دي:
البانیا، اندورا، استریا (اتریش)، بېلاروس (سپینه روسیه)، بلجیم (بلژیك)، بوسنیا او هرزګوینا، بلغاریا، کروشیا، چك، ډنمارك، استونیا، فنلند، فرانسه، جرمني (المان)، یونان، هنګري (مجارستان)، ایسلند، ایرلند، ایتالیا، لاتویا، لیختن اشتاین، لېتوانیا، لوکزامبورګ، مقدونیه، مالتا، مالدووا، موناکو، نیدرلند (هالند)، ناروې، پولند (لهستان)، پرتګال، رومانیا، روسیه، سان مارینو، صربیا او مونتینګرو (یوګوسلاویا)، سلواکیا، سلوانیا، اسپانیا، سویأن، سویس (سویتزرلند)، ترکیه، اوکراین، انګلستان او واتیکان.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د نړۍ د هېندارې د دايرة المعارف ګوټي دغه ټوك (اروپا) ۸۸۲ پاڼې لري او د ليكلو له پاره يې له ٤٢ معتبرو اخځونو څخه استفاده شوې ده.

د_ امريكا: د نړۍ د هېندارې د ستر كتاب پنځم ټوك (امريكا) نومېږي چې د ۲۰۰٦ په سپتمبر (۱۳۸۵ هـ. ش) كې چاپ شوی دی. دغه كتاب د ظاهري ښكلا او نفاست له مخې د اروپا ټوك ته ورته دی او دا د كتاب د چاپ په برخه كې د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا له مركز سره د الاذهر د خپرندويه ټولنې د فني _ تخنيكي مرستو ښه بېلګه بلل كېدای شي.

د امريكا د كتاب په پيل كې له فهرست څخه د كتاب ډالۍ راغلې ده. د كتاب مولف خپل دغه كتاب د افغانستان دوو سترو پوهانو او څېړونكو عبدالحی حبيبی او عبدالشكور رشاد سپېڅلو ارواوو ته ډالۍ كړی دی. هغه دوه نوميالي چې خپل ټول شريف عمرونه يې د پوهې، څېړنو او علمي فعاليتونو د خپراوي او پياوړتيا له پاره وقف كړي وو:

له دې وروسته د نړۍ د خپلواكه هېوادونو او نا خپلواكه سيمو جدولونه، بيا د امريكا د لويې وچې پېژندګلوي او ورپسې د دغه لويې وچې د ټولو هېوادونو په هكله معلومات راغلي دي.

د امريكا د لويې وچې دغه ۳۵ هېوادونه د الفبې په ترتيب دا دي: انټېوا او باربودا، ارجنتاين، بهما، باربادوس، بوليويا، بيليز، برازيل، كاناډا، چيلي، كولمبيا، كوستاريكا، كيوبا، دومينيكا، دومينيكن، اكوادور، السوادور، ګريناډا، ګواتيمالا، ګويانا، هايتي، هاندوراس، جميكا، مكسيكو، نيكاراګوا، پانامه، پاراګوای، پيرو، سنت كتس او ناويس، سنت لوسسيا، سنت وسنت او ګريناډينز، سورينام، ترينيداد او توباګو، د امريكا متحده ايالات، يوروګوای او ونزويلا.

د نړۍ د هېندارې د دايره المعارفګوټي دغه ټوك، ۷۳۸ مخونه لري او په ليكلو كې يې له ٢٤ اخځونو څخه كار اخستل شوی دی.

اوس راځو د دغه څلورو واړو كتابونو پر ګټور توب باندې لنأې خبرې كوو: په افغاني مطبوعاتو كې د نړۍ د هېوادونو د پېژندګلوۍ (طبيعي، سياسي، بشري، اقتصادي او تاريخي جغرافيه) د كوچني يا غټ او تفصيلي كتاب ځای چې ښاغلی ارينزی يې دايره المعارفګوټی بولي، په ريښتيا تش و او دا هغه لومړنی كتاب دی چې په پښتو ژبه د نړۍ د ټولو هېوادونو د پېژندګلوۍ په هكله ليكل شوی دی. كتاب ټول له ارقامو ډك دی او په داسې ساده ژبه ليكل شوی دی چې پر پښتو سربېره نور افغاني ورونه هم استفاده ورځنې كولای شي.

په كتاب كې د خلكو، ځايونو، ګوندونو او نورو مهمو نومونو تر څنګ د هغې انګليسي كلمې يا جملې هم راغلې دي تر څو چې له لوستونكو سره د كتاب د لوستلو په وخت كې د سم تلفظ په برخه كې مرسته شوې وي. سربېره پردې په كتاب كې د هېوادونو نقشې او ملي بيرغونه هم راغلي دي. كه څه هم چې د چاپ د لګښت د كمولو له پاره نقشې تورې او سپينې چاپ شوې خو ملي بيرغونه په خپلو همغه اصلي رنګونو چاپ شوي دي.

د نړۍ د هينداري د دغه پنځو ټوكونو معلومات زموږ د ښوونځيو د جغرافيې د ښوونكو، زده كوونكو، د پوهنتونونو د محصلينو، ژورناليستانو او د عمومي معلوماتو د ليوالو له پاره هرو مرو په زړه پورې دي. كه څوك د يوه هېواد د طبيعي جغرافيې په هكله معلومات غواړي، كه څوك د كوم هېواد د نفوسو او يا د نفوسو د جوړښت په هكله يه څه پوهېدل غواړي، كه څوك د كوم هېواد د حكومت يا سياسي ګوندونو يا پارلمان په هكله څه معلوماتو ته اړتيا ولري، همدا راز كه څوك د كوم هېواد د اقتصاد يا تاريخ په هكله څه غواړي نو ټول په دغه كتابونو كې پيدا كولای شي. د كتاب ډيری شمېرنې خورا نوې دي او په همدغه وروستنيو كلونو پورې اړه لري. د مثال په توګه د نړۍ د هېندارې پنځم ټوك ډيری شمېرنې د ۲۰۰٤ او ۲۰۰۰ كلونو دي. په داسې حال كې چې خپله كتاب په ۲۰۰٦ كې خپور شوی دی.

د كتاب اخځونه چې د هر ټوك په پای كې راغلي خورا د ډاډ وړ دي. دا اخځونه كتابونه، دايره المعارفونه، مجلې، اخبارونه، د كمپيوټر سي ډي ګانې CDs او د انټرنټ پاڼې دي البته چې د نړۍ د هينداري په خپرولو سره نه يوازې دا چې د كابل كالنۍ نشراتي عنعنه ژوندۍ وساتل شوه بلكه د هغې څخه په لوړ كيفيت او د معاصرو تخنيكي او عملي امكاناتو څخه په استفادې سره د نړۍ د ټولو خپلواكه او نا خپلواكه هېوادونو، هېوادګيو او سيمو عمومي او انسايكلوپيډيك معلومات په نوي او عالي علمي بڼه د هېواد د فرهنګ مينانو ته وړاندې شول.

ناويلې دې نه وي پاته چې د كتاب ښاغلي مولف د (اسيا)، (افريقا)، (استراليا)، (اروپا) او (امريكا) د ټوكونو په هره سريزه كې له ښاغلو لوستونكو او فرهنګيانو څخه په كلكه هيله كړې ده ده چې له سره د دې د دايره المعارفګوټي په بشپړولو كې مرسته وكړي او مشورې دې وركړي. نه پوهېږم چې ښاغلو لوستونكو او كره كتونكو به دا كار كړی وي كه نه؟. ليكوالو او مولفينو ته د مشورو وركول او د دوی به كارونو باندې علمي كره كتنې، له هغوی سره مرسته كوي چې د خپل كار نيمګړتياوې له مينځه يوسي او داسې اثار خپاره كړي چې ټول پرې وپوهېږي.

ناويلې دې پاتې نه وي چې د نړۍ د هنداري درې كتابونه (اسيا)، (افريقا) او (استراليا) د دويم ځل له پاره هم چاپ شوی دی او داسې ښكاري چې څلورم ټوك (اروپا) يې د بيا چاپ په درشل كې دی او دا په افغانستان كې ډېر لږ داسې پيښيږي چې يو كتاب دې له چاپه يو كال وروسته بيا چاب شي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولـئ

په پای کې به دا ټکی نه هیروو چې د نړۍ هېنداره واقعاً یو په زړه پورې او ارزښتمن اثر دی چې د پاڼو د شمېر له پلوه په پښتو کې بې مثاله کتاب دی او د متن له پلوه هم د ډېرو خلکو له پاره ګټور دی. د داسې روځې په هیله چې زموږ کتابتونونه په سلګونو او زرګونو داسې کتابونه ولري چې د افغانانو په واسطه لیکل شوي او یا ژباړل شوي وي او زموږ ټولنه د نیکمرغي او پرمختګ لارې ته سم کړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ